# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|

دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردگ
۲۷ مارچ ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم-۲۵

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

### پنځه پنځوسمه مسئله

داده: چی پرهرمسلمان واجبه ده چی دین وساتی. ځکه چی ډیری هواوی پیداشوی دی. اوابوهریره رضی الله عنه روایت کوی: چی رسول علیه السلام وویل چی حق تعالی خلق په څلورډوله پیداکړل: فرشتی، دیوان اوپریان اوآدمیان. داڅلورډوله یی بیا لس قسمه وګرځول: نه قسمه یی فرشتی، یوه برخه یی دیوان اوپریان اوآدمیان راغلل. بیایی دا دری ډلی هم لس ډلی کړلی: نه ډلی یی دیوان اویوه ډله یی پریان اوآدمیان. بیا یی دا دوه ډلی لس ډلی کړلی: نه قسمه یی پریان اویو قسم یی آدمیان. وروسته له زرو ټوټو آدمیان راغلل.

پس دایوه برخه دآدمیانو یی ۱۲۵ ډلی وګرځولی. سل ډلی یی دهند په څمکه دی، یأجوج اومأجوج اومانوق اوماسق اوماکوخ اوساطوخ دی. دیوی جزء یی پرته نوریی ټول کافردی اودوزخ ته تلونکی دی. اوله پنځه ویشتو باقی برخوڅخه یی دوولس دروم په بلاد کی ساکنه دی. نسطوریه وملکانیه واسرائیلیه. اودا دوولس ډلی ټولی کافر دی اوناپیژانده، اود دوزخ نامزد دی. اوله هغی دیارلسو پاتوډلو څخه ، شپږ ډلی یی دمشرق په ځمکه دی: ترک دی اوخاقان اوخلج اوخزراو ددوی جزء هم کافردی چی دوزخ ته به ځی. اوشپږ نوری ډلی په مغرب کی دی: زنګیان دی اونبطیان اوحبش اونور، اوداټول کافردی اودوزخ تلونکی دی.

اوخواجه ابوالقاسم حکیم سمرقندی رحمه الله وایی: دا ۱۲۵ ډلی پرته له ترسایانو اومغان اوجهودانو څخه اوبیرته تګ یی دوزخ ته دی. اودتوحید اهل یو قسم پاته شول اوهغوی هم دری اویا فرقی دی. ۷۲ یی اهل بدعت اوضلالت دی اوبیرته تګ یی دوزخ ته دی.

که خدای تعالی وغواړی هغوی به له دوزخ څخه راوباسی په خپل فضل سره. اویوه ډله چی اهل سنت اوجماعت دی ، ژوند به کوی دخوف اورجاء ترمنځ. اورسول علیه الصلوة والسلام وویل: هغوی چی ګناهکاران دی اوبدکرداره دی د( یَغفِرُ لِمَن یَّشآَءُ وَیُعَذِبُ مَن یَّشأءُ) ترتوقیع لاندی راځی اوحساب اوکتاب یی دخدای عزّوجلّ سره دی.که وغواړی دوی عذاب کړی اوکه وغواړی عفوه یی کړی. اوټول خلک چی اهل سنت اوجماعت دی هغه کسان دی چی پرمومن په

کفرشاهدی نه ورکوی اگر که کبیره وکړی. اوپه هرنیک اوبد پسی لمونځ کوی، اودجمعی له لمانځه لاس نه په سرکیږی، اوپه هرعادل اویا جابر امام پسی لمونځ کوی. دوی دقیامت ترورځی اهل سنت اوجماعت دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: همداسی وویل زما لوی خدای ، اوماته یی هم په همدی سره امر وفرمایه، اوهرڅوک چی په دی حال نه وی زما پرژوند اووروسته زما له وفات څخه ، هغه نه په دنیا اونه په عقبی کی زمونږ څخه نه دی.

اوپه خبرکی دی: چی کله حق تعالی آدم علیه السلام پیداکړ اوبیا یی هغه بهشت ته بوت اوبیا یی دنیا ته راووست، ابلیس یی دآدم په سبب لعنت کړ اودواړه یی دنیا ته راواستول، اوچی دآدم داولادی یو اولاد دنیا ته راشی ، دهغی په بدل کی د ابلیس لس بچیان پیداکیږی. اوهمدارنګه دآدم اولاد هم زیږی اوهم زیږوی ولی دابلیس اولادترقیامته نه مری.او حق تعالی ابلیس علیه لعنه ته تمنی ورکړی په هواکی، اولښکری استوی دآدم اولادی خواته، په هره ورځ کی اویا ځله ابلیس دآدم دهربچی احوال اخلی دخپلو ګمارلو پواسطه. اودهرمومن اځل چی راشی نو ابلیس علیه لعنه ته خبرورکوی، چی فلان بنده دنزع په حال کید. ابلیس اویازره دیوان مامورکړی ترڅو دهغی بنده شاه اوخوا وګرځی ترڅو ګوندی ایمان تری یوسی. که دابنده دسنت اوجماعت اهل وی نو حق تعال دهردیوپه بدله کی لس فرشتی استوی، ترڅو دهغی روح دحق تعالی په رضا ووزی. اوکه هغه کس نعوذُ باالله مان ذالک مبتدع وی، هغه په ابلیس اودهغی لښکرو ته ایله کوی ترڅویی روح په کفر کی ووزی.نَعُوذُ بِاللهِ مِنَ البِدعَة والضَلالةِ وَمِنِ تلکع الحالة.

اوعبدالله ابن عباس رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: چی کله دقیامت ورځ شی هواداران به دوزخ خواته بیایی اودوی به وایی: ای خدایه! نه موبت پرستی وکړه نه لمرپرستی اونه هم سپوږمی پرستی وکړه ولی مو دوزخ ته بیایی؟ عبدالله ابن عباس رضی الله عنه په ژراشو او وویل: رینتیا وایی نه یی بت پرستی وکړه اونه هم لمر پرستی اونه هم سپوږمی پرستی، ولیکن داسی شیان به یی ویلی وی دخپل نفس دهوا له مخی، چی کفر اوشرک ته وتلی وی اودوی نه وی خبر.

پس مومن باید همدا طریقه اومذهب ټینګ کړی چی وویل شول ترڅو له هواوو اوبدعتونو څخه لیری شی. همدومره بس دی هوښیارلره.